هفته نامه

مرآت الجهاد

د جهاد هنداره

لومړي کال ، (۹) گڼه د۱۳۶۹هـ ش دعقرب (۲۳)

پرخوست د مجاهدينو دعملياتو لړۍ روانه ده

د گليم جم [۲۳]تنه له وسلو سره مجاهدينو ته تسليم شوي دي

وحدت ورځپانه اوبا اسلامي آژانس ، چواله ليکي:

له پکتيا ځخه په رارسيدلو خبرونو کې ويل شوي دي چې دعقرب دمياشتي په (۱۷) نيټه په خوست کې دمزدور رژيم د «گلم جم »قوا(۱۱) تنه پوځيان له خپلو وسلو سره دالحاج مولانا جلال الدين حقاني ترقيادت لاندي دسلمان فارسي (رض) غنډ له مجاهدينو سره يو ځاي شوي دي .

خبرزياتوي چې راغليو عسکرو له ځان سره دوه راکټ لانچرونه ، دوه پي کا ماشينگنې او (۸)ميله کلاشينکوف راوړي.

دي بل خبرله مخې په همدغه ورځ دگليم جم (۱۲) تنه د ډر ملکه « په سيمه کې مجاهدينو ته تسليم شوي دي.

خبرزياتوي چې دخوست په مرکز اوشاوخوا سيمه کې دمزدوررژيم پر پوځي تاسيساتو او پوستو دمجاهدينو دعملياتو لړۍ روانه ده .

روسان دکابل له مزدوررژيم سره د خپلو مرستو په اړه انديښمن دي

په (۸)مخ

په زابل کې درژيم اته پوستي دمجاهدينو لخوانيول شوي

له کويټي ځخه رارسيدلي رپوټونه وايي چې دکندهار اوزابل مجاهدين په گډه سره اوس هم دقلات پربنار باندي بريدونه کوي اومحاصري کړي ورځ په ورځ تنگوي .

مجاهدينو په هغه حمله کې چې دعقرب په (۱٤) نيټه يې دقلات په مرکز کې درژيم پر پوستو ترسره کړه ، دگوداگي رژيم ځلورپوستي د زرداب ، قاتيزي ، اورشتي په نامه فتحه کړي اوپدي لړ کې يې دمزدوررژيم نهر تنه مليشيان ژوندي نيولي اوهم يې (۲۷) ميله درني اوسپکي وسلي يې نوموړوپوستوځخه په غنيمت نيولي دي .

په رپوټ کې زياته شويده چې مجاهدين دکابل رژيم دالوتکو دپرله

پاتې په (۸)مخ



PROPERTY OF ACKU

محترم استاد سياف:

موبر. دقوماندانانو دشورا تائيد کوو اودغه ورشوراگانى دهغود اصولي موقف له مخى دمقاومت له پاره مؤثرى اوضروري گڼو

دمجاهدينو دعبوري حکومت صدراعظم اودااتحاد اسلامي مشر استاد سياف دروان کال دعقرب مياشتي په (۹) نيټه کې ددينې علماوو په يوه خانگړي غونډه کې چې دااتحاد اسلامي ددعوت اوارشاد کميټې له خوا دهغه درياست د تنظيم اوتربيت داداري په انگر کې جوړه شوي وه وويل :

دمجاهدينود اتحاد له پاره چې هرځاى اودهر مجاهد قوت له خوا کوم قدم پورته کيږي موږ دهغه تائيد اوملاتړ کوو . زما هيله ده چيرته چې اتحاد قايمداي شي اوداختلاف درد دواکيدلي شي تاسي علما اوزموږ

(٦)مخ

دکشمير سيمه دبيروت ننداره ښيي

دهندي پوځونو اوخپلواکي غوښتونکو کشميريانو ترمنځ نښتو کې ترا اوسه (۲۰۰۰)کسان وژل شوي دي

«وال ستريټ مجله »

«نيويارک دنوامبر ۱۱مه »د «وال ستريټ »مجلي يو خبريال «جمزسترها» »له سرينگر نه په يوه ليک کې ليکلي چې دکشمير تهول اوسيدونکي دخپلواکي غوښتونکو ترشا ولاړ دي

(۸)مخ

دپاکستان داسلامي حکومت نوي کابينه جوړه شوه

دپاکستان له عامو انتخاباتو وروسته دتيري جمعي په ورځ نه «۱۸ »کسيزي کابيني دوفا داري ... وکړه دکابيني غړي داسلامي جمهو...

پاتې په (۸)

دکمونيزم دماتې دير سترعامل افغانستان دي

(۳)مخ

دکمونيزم دماتي په اړه دخلوروامريکايي سياسي کتونکو اومحققينو نظريات

خليج يا گوشواره طلايي امريکا

ص (۸)

فتح چارپوسته رژيم درولسوالي ميوند

مجاهدين به ادامه عمليات برولسوالي ميوند ولايت کندهار چارپوسته مزيد رافتح هشتاد وپنج تن ازمليشاي رژيم راهلاك وشصت نفر ديگر را اسير نمودند وجنرب اغاز يافت ضمن فتح چارپوسته و وارد آوردن تلفات جاني دو تانك وسه موتر نظامي رژيم نيز توسط مجاهدين منهدم گرديد .

طبق گزارشهاي مطبوعاتي دراين عمليات كه بتاريخ (۱۳) عقرب بااستفاده از سلاح ثقيل برولسوالي محاصره شده ميوند ازسمت شمال گزارش حاكيست كه طيارات دشمن نيز ازارتفاع بلند برمواضع مجاهدين بمبارد نموده كه موجب تلفات وخسارات نگرديد .

ص ۸۰

مقاومت دربرابر زورگويي صهيونيست ها

مقاومت قهرمانانه ملت مسلمان فلسطين دربرابر زورگويان صهيونيستي اسرائيل همچنان ادامه داشته وطي زدوخوردهاي اخيريكه با پوليس اسرائيل صورت گرفت در حدود ششصد تن از فلسطينيان به اثر اصابت گلوله ويا استشمام گاز به شهادت رسيده ويا مجروح شده اند .

مطبوعات گزارش كرده است كه غزه ونواحي اطراف ان صحنه برخورد جدي فلسطينيان با پوليس اسرائيل بوده است همچنان اسرائيل هاي اشغالگر به ادامه انهدام منازل مسكوني فلسطيني‌ها چندين منزل ديگر رانيز ويران كرده اند گزارشات مطبوعاتي حاكيست كه حملات انفرادي بر يهودي ها نيز ادامه يافته طبق تازه ترين خبر يكي

ص (۸)

دهند نوي صدراعظم چندر شيکر اومرستيال يې ديوي لال وټاکل شول

په هند کې دتېيټ ذاتو اولوړذاتو ترمنځ دراپيداشويو مسئلو پر سر بالاخره دتيري چارشنبي په ورځ دهند پخواني صدراعظم وي پي سنگ له پارلمان نه داعتماد رايه ترلاسه نکړاي

(۸)مخ

تيراتلونکي ميلادي کال پوري به يومليون يهوديان له روسي ځخه نيول شوي فلسطين ته وليږدول شي

(۸)مخ

سرمقاله

ملگري ملتونه دبين المللي سازشونو ددلال په توگه

دنړۍ گڼې په مقاله کې مو دجهاد پر ضد دبين المللي سازشونو يو بل اړخ)ترعنوان لاندي دروس امريکا دهغو گډو سازشونو په رابطه ددي تيکي ځرگندونه کړي وه، چې نړيوال استعمارغواړي دجهاد پر ضد خپلې توطئې اودسيسي دملگرو ملتونو په واسطه پلي کړي اوداسازمان پدي لار کي هغه کارترسره کړي چې روسي پوځونه دهغي په ترسره کولو کي له ناکامي سره مخامخ شول .

دجريدي له خپريدو دوي ورځي وروسته پدي اړه دملگرو ملتونو له خوا يوه پريکړه اعلان شوه چې په اصطلاح ديوه پراخ بنسته حکومت دجوړيدو له پاره بايدانتخابات ترسره شي خو دپريکړه ليك له محتوياتو اولهجې داسي معلوميږي چې دنجيب گوداگي رژيم به ددغو په اصطلاح انتخاباتو په جريان کې ددوي په وينا په سمبوليکه بڼه پاتې وي دملگرو ملتونو سرمنشي لدي مخکي هم ددي ځرگندونه کړي وه چې دحل دهري يوي لاري له لټولو مخکي داضروري ده چې روس امريکا خپل منځي توافق ته ورسيږي اوامريکا خو دانتخاباتو په جريان کې

(۸) مخ

افغان مجاهد ولس هيڅ بيروني قوت ته دهيواد په داخلي چارو کې دلاسوهنې اجازه نشي ورکولی

الحاج مولوی جلال الدين حقاني

د جهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

د تأسيس كال : (۱۳۶۹) هجري شمسي

هيوادته دسولې راتګ يوې پريکنده جګړې ته اړتيا لري

امداد الله هجرت .

تقريباً دوه نيمي مياشتي وروسته زمونږ له هيواده دروسي لښكرو داخراج د :: كاله په بشپړيدو دي خومتاسفانه دروس غلام رژيم لا پر ځاي پروت دي . دمزدورنجيب دحكومت دومره اوږديدل موخو را دردوونكي واقعيت دى كه څه هم پورتني خبره دليل ته هم چندان اړتيا نلري خوموږ ددي مقالي داصلي مطلب دښه بيان اومنطقي تشريح لپاره لازمه ګڼو چي دنجيب اودهغه دپليت اوبي ننګه باند دبقا داوږديدو دتريخ ختوب پر دليلونو لنډي خبري وكړو :

ترټولو ړومبي خبره خوداده چي دادهغه بدنامي ډلګۍ حكومت دي چي (۱۲) كاله دمخه يي زمونږ په ګران هيواد كي دكفر او سره وحشت دحاكميت بدمرغه بيرغ پورته كړ دكرملين په قوماندة يي زمونږ دمسلمان ملت دعقيدي ،شرف ،ناموس اواستقلال پر ضد جنګ اعلان كړ .زمونږ دمظلومو هيوادوالو پر ژونديي دمرګ ، زندان ، ويري اواختناق بد شا ګومه بلانازله كړه .زمونږ دقام په لكونو زلميان يي دايمان ، عزت ،اوآزادي په بنهيو اړولي دي ،دهيواد څپك ،څپك خاوره مو دهمدي بدنام اوشرميدلي باند دفاجعو اړ خيانتونو له لاسه په وينو ولړل شوه . دګن شمير پتمنو افغانانو پر حيثيت ،عزت اوابرو لوبي وشوي ، لنډه دا چي بي حيا كمونستانو زمونږ له قوم او وطن سره هغه څه وكړل چي شايد تراوسه په تاريخ كي چا له خپل ملت اوهيواد سره ددومره بي شرافتي ،كرغيړنتوب اوبي انتها بي شرمي مظاهره نه وي كړي .

نوديوى داډول ډلګۍ دموجوديت اوبقا يوه ورځ هم طبيعي ده چي زمونږ پر ولس ډيره ترخه تماميږي .بي ننګه كمونيستانو چي زمونږ په وطن دغمونو ، فاجعو اوناكردو كوم توپان راوستي اوزمونږ دمسلمان اومستضعف قوم يي چي څومره خون په غاړه اخيستي دهغو ټولو انتقام دادي چي دابدنام رژيم دخپل بي شرمانه عمل طبيعي انجام ته پر رسيدو سره دهيواد له لمني وژك اوپناشي .

بله خبره داده چي ترڅو به افغان ولس دجګړي په اورتون كي لوخړيږي ترڅو به يي ژوند اوجنګ له يو بل نه دوه نه

بي ننګه كمونيستانوچي زمونږ په وطن دفاجعو ، غمونو اوناكردو كوم توپان راوستي اوزمونږ دمسلمان اومستضعف قوم يي چي څومره خون په غاړه اخيستي دهغوټولو انتقام دادي چي دابدنام رژيم دخپل بي شرمانه عمل طبيعي انجام ته پر رسيدو ورك او بوپناه شي .

حرم په وينوولمبول ، په لكونو ميندي ، پلرونه يي دخپلو تنكيو زامنو درحشتناك او آرمانجن مرګ په اوروسوځول ، په لكونوميرمني بي دخپلو خاوندانو دمظلومانه قتل اوتري تم كيدو په غم وتركولي ، په لكونو مظلوم ماشومان بي دبي سرپرستي اولالهاندي ويني وچوونكو كړاوونو بي رحمه څپو ته ودرول ، پنځه مليونه افغانان بي دمسلماني او بي وسي په ګناه دخپل هيواد دهجران اوبي كوريه دمصيبت په څپيرو ووهل دادوولس كاله پرله پسي يي بي دليله زمونږ هيواد دباروتو داوروونو اولوګيو په بيليدونكي معقولي اوواقيعتونه وي ترڅو به لا له خپله هيواده دهجران اوبيلتون ژوند وي ،ترڅو به له ګوليو اوباروتو سره لوبي كول وي ،ترڅو به د مرګ اوژوند ترمنځ دكشمكش روان سوز پر جنجاله حالت وي آيا ډيره دردوونكي نده چي ديوه محدود غلام اوجاني باند له لاسه دي هغه قوم چي دلويو طاقتونو دماتولو همت اوتجربه لري دزيار اومقاومت ثمر لري ، دبنداواسارت دزولنو دماتولو جرئت اوقوت لري ،ديوه آزاد سر لوړي فعال اوپياوړي ملت په توګه دتبارزاو

«۷۰» مخ

دملګرو ملتونو دعمومي اسامبلي وروستۍ پريکړي ته يوه کتنه

شېرمحمد

دكه چي دنړيوالو خبري آژانسونو له قوله مو واوريدل دملګروملتونوعمومي اسمبلي دتيري پنجشنبي په ورځ پريكړه وكړه چي په افغانستان كي دي انتخابات وشي او په اصطلاح دپراخ بنسټيزه حكومت دجوړولو دپاره دي په خپلوكي سمدستي خبري اتري شروع كړي اوهم ټولو خارجي قواو ته ويل شويدي چي ديوه هراړخيز سياسي حل دپاره په چټكي سره كاروكړي .

برسيره پردي روس او امريكي هم په افغانستان كي دانتخاباتو دترسره كيدو لپاره پر ګډه سره موافقي ته رسيدلي دي . اوس سوال پيدا كيږي چي ملګرو ملتونو ولي داپريكړه كړيده ؟ دپريكړي اصلي علت روښانه دي . داځكه چي روس اوامريكي دافغانستان دجهادي ځواكونو وروستيو غونډواو د اختلافاتو دليري كيدو هلو ځلو چي په جهادي تنظيمونو كي روان دي انديښمن كړي اوداسي ورته برېښي چي دتنظيمونو له اتحاد سره به ضرورمجاهدين بري ته رسيږي اوبيا دي توګه به يو اسلامي دولت په افغانستان كي جوړ شي . چي دادولت به يواصيل اسلامي او افغاني دولت وي اوله هيڅ استعماري ځواك سره به منسلك نه وي .

داخوڅرګند ه خبره دي چي ملګري ملتونه دروس او امريكي په اشاري سره پريكړي كوي اونورهيوادونه هم ددوي ټندي ته ګوري اوددوي دخوښي سره سم عمل كوي .

دروسيي سرده‌دار ګورباچوف وكولي شول پخپلو شيطاني پلانونوكي داسي په ماهرانه توګه پرمخ ولاړ شي چي دټولو نړيوالو په سترګو كي خاوري وشيندي اوددي غږ په پورته كولو سره چي ګني دګورباچوف دبيا رغوني دپروګرام سره سم شرقي .اروپايي هيوادونو ته او دروسيي په دننه جمهوريتونو كي دخوداراديت حق وركړه شويدي اوسږكال يې ديو سوله ايز انسان په توګه حتي دنوبل جايزه .هم ترلاسه كړه .

ملګري ملتونه كه په ريښتيا سره غواړي چي په جنګ ځپلي افغانستان كي جګړه ختمه شي نوروسانونه دي ووايي چي دخپل لاس كينولي ګوډاګي رژيم له حمايي څخه لاس واخلي اود تباه كوونكو سلو دليرلو لري ختمه كړي

دامريكي مشرانو اودهغوي نورو انديوالانو خو ترهغه وخته پوري دافغان مجاهدينو پلوي كوله چي ددوي سترحريف دمجاهدينو له لاسه وتكول شو . مونږ ددي كفري طاقتونو څخه هيڅ ګيله نلرو ځكه چي دوي خپل هدف ته رسيدلي دي اودروس مشريې اوس تابعداري ته سر ټيټ كړي دي ؛ خو داسلامي هيوادونو څخه زمونږ ګيله پرځاي برېښي . ددي لپاره چي دا هيوادونه ولي دملګرو ملتونو په غونډوكي دروس اوامريكي نظرياتو ته دتائيد سرونه خوځوي حال دا چي اسلامي احكام اوقوانين اوهم دمجاهدينو سپيڅلي هدف چي داسلام له مقدس دين سره پوره مطابقت لري ، دوي ته څرګند دى .

آيا دافغانستان مسلمان ولس كولي شي چي دهغو ډلو سره خبرو ته كښيني چي دپرديو قواو له خوا دقدرت په ګدۍ ناست دي او پوره دولس كاله ئي له دوي او ددوي له بادارانو سره مقدس جهاد پيل كړى دى؟آيا كيداي شي چي په اسلام مين افغانان دخپل اصلي هدف څخه چي په افغانستان كي داسلامي دولت منځ ته راتلل دي مخ واړوي او له كمونستي ډلي سره يو ځاي په انتخاباتو كي ګډون وكړي ؟ كه څه هم داانتخابات سل په سلو كي دمسلمانانو په ګټه وي .

«۷۰» مخ

حمايت ملت قويتر از هرگونه اسلحه است

م - ت

گرداننده گان رژيم كابل باردیگر دست التماس بسوي كرملين درازنموده وطلب خير (سلاح) نموده اند . گزارش هاي رسيده حاكيست كه اين بار نه تنها نجيب رئيس رژيم كابل بلكه صدراعظم ووزير خارجه حكومت دست نشانده روس نيز ازكرملين خير خواستند .

گرداننده گان رژيم كابل ازرهبران كرملين تقاضا نمودند تا ارسال اسلحه به رژيم راكه مشغول قتل وويراني مردم وكشور افغانستان است قطع ننمايد . اين تقاضا دروقتي صورت مي گيرد كه افواهات گرم مبني بر دستيابي وزراى خارجه روس وامريكا درمذاكرات شان بخاطر قطع ارسال سلاح بر جوانب در گير در موضوع افغانستان سر زبانها است .

ناظرين باين باوراند كه ممكن است وزراي خارجه روس وامريكا طي اين ملاقات برقطع ارسال اسلحه به طرفين منازعه به موافقه برسند .

احتمال قطع ارسال اسلحه ازطرف روس ها به رژيم كمونست كابل وافواهات وحدسيات درين زمينه باعث شده است تا رهبران رژيم كابل دست وپا چه شده همگي دست طلب به كرملين بلند نمايند .

سخن درينجاست كه چرا سردمداران رژيم كابل باين زودي وباين حد دست از پا گم مي كنند؟بنظر من آنها درين عمل خود مقصر نيستند زيرا آنها خود ميدانند كه از ملت ومردم خويش بيگانه اند ودر حق ملت و مردم مظلوم خويش ان ناروايها وظلم هاي فراوان را روا داشتند كه مردم ما از هيچ غاصبي ومهاجمي نظير انرا بياد ندارند . اما رهبران رژيم كابل بايد بدانند كه ارسال سلاح بيگانه وادامه قتل وقتال وخونريزي بيشتر نميتواند انها را از سرنوشت حتمي كه همانا نابودي شان توسط ملت مجاهد افغانستان است نجات دهد .

تجارب دوازده ساله جنگ راشايد

مجاهدين به پيروزي حتمي خويش بر دشمن بيگانه ازملت كه فعلا دركابل حكومت مي كند اطمينان دارند مجاهدين درطول جهاد ازپشتيباني ملت برخوردار بوده وحمايت ملت مسلمان افغانستان براي جهاد قوت ونيرومندي بيشتربخشيده است وامروز هم ازين جهت مجاهدين بيشتر برحمايت ازجانب ملت مسلمان فكرمي كنند تاسلاح

«۷۰» م

دکمونيزم دماتي په اړه دڅلوروامريکايي سياسي کتونکو اومحققينو نظريات :

دکمونيزم دماتي ډير سترعامل افغانستان دی

• دافغانانودمقاومت له برکته ختيځه اروپا اوټوله نړۍ دکمونيزم له شرڅخه وژغورل شوه .
(گرام پارلر)

• دافغانانو مبارزي دنړۍ نورو ولسونو ته د آزادي درس ورکړ چي دکمونيزم جغ له اوږوليري کړي .
يوکوياما

• پرافغانستان دروسانو يرغل له هره اړخه مسکو ته ډير گران پريوت .
جيمزتيلر

• دکمونيزم دماتي ډير سترعامل افغانستان دي .
انتوني ارنولد

انتوني ارنولد د (۱۹۷٤) نه تر (۱۹۷٦) ميلادي کال پوري په افغانستان کي وظيفه اجرا کړيده ، دی په روسي ژبه ډيرښه پوهيږي دافغانستان دمقاومت اوروسي يرغل په اړه يي دوه کتابونه ليکلي دي اواوس په شوروي اتحاد باندي دافغانانو دجهاد دتأثيرپه هکله ديوه تحقيقي کتاب په ليکلو بوخت دی .

نوموړی چي همدااوس اوس دروسيي له سفر څخه بيرته امريکا ته راغلی دی په نړۍ کي دکمونيزم دماتي په هکله وايي چي : کمونيزم بوداسي نظام ؤ چي دخلکو دردونه يي نشوای دواکولی

په ټولو کمونستي هيوادونو کي اقتصادي وضعه ډيره خرابه وه کمونيزم بوه داسي نظرياوتيوري ده چي عملي اړخ يي ډير کمزوری دی کله چي سړی کمونستي نظريات لولي نوظاهراً ښه ورته ښکاري خو په عمل کي دايوډير ناکامه سيستم دی، دی وايي :کمونيزم ډيرولسونه ځپلي اودټولو آزادي اواقتصادي حقوق يي سلب کړيدي.دی وايي پدي تيرو څو کلونو کي خبره ديي حد ته راورسيده چي نورچا دانظام نشوای زغملی همغه ؤ چي بيخي ړنګ شو .

ارنولد زياتوي دکمونيزم دماتي ډيرسترعامل افغانستان ؤ دافغانانو مبارزي دکمونيزم په وړاندي دخلکو ذهنونه روښانه کړل اودهغه نظام پرخچي يي والوزولي.دی وايي : دروسي خلکو دادومره اوږده موده کمونيزم څکه زغملی ... اي چي روسانو واړه هيوادونه يوپه بل پسي لاندي کول اوکمونستي ايديالوژي يي پري تحميلوله خوکله چي دافغانانومقاومت خلك پدي پوه کړل چي کمونيزم نورپه چاباندي په زورنه تحميليږي نوهغه ؤ چي دکمونيزم په

> نه يواځي دروسي اوختيځي اروپا ولسونه بلکي گرده نړۍ بايد دافغانانوقدرداني وکړي .

مقابل کي مخالفت اومقاومت پيل شو.

ارنولد وايي دامتل دي چي دخوار بازاړه سړي غابښ په حلوا کي وځي که سړي شوروي اتحاد چي يولوی ملك دی له افغانستان سره مقايسه کړي نو تعجب به وکړي خواصلي خبره داده چي شوروي اتحاد دومره بوډاوبي سيکه شوي چي افغانستان له پښو وغورځاوه .

نوموړی وايي :روسان بايد له افغانانو څخه مننه وکړي چي دکمونيزم دشکست لاره يي اواره کړه دادافغانانو دجهاد برکت دي چي شوروي په خپل هيواد کي دآزادمارکيټ اقتصادي نظام جاري کوي که په روسيه کي څوکاله نورهم کمونيزم چليدلی وای نودغه هيواد به ډيرسخت پرمخي لويدلي وی اوغاښونه به يي وتلي اوهډوکي به يي ريچي ريچي شوي وو اوکه روسان دافغانستان په لاندي کولو کي بريالی شوی وای نونوره نړۍ به يي په ډيره آسانۍ له ستوني څخه تيره کړي وه .

ارنولد وايي چي نه يواځي دروسي اوختيځي اروپا ولسونه بلکي گرده نړۍ بايد دافغانانوقدرداني وکړي .

> روسان بايد له افغانانو څخه مننه وکړي چي دکمونيزم دشکست لاره يي اواره کړه - دادافغانانو دجهاد برکت دي چي شوروي په خپل هيواد کي دازادمارکيټ اقتصادي نظام جاري کوي

گرام پارلر چي پخوا دامريکا دبهرنيو چارو په وزارت کي مامور ؤ اواوس د(ان) په شرکت کي دشوروي او منځني ختيځ دچارو مشاوردی اوپه کابل کي يي دامريکا په سفارت کي د (۱۹۷۵-۱۹۷۸) ميلادي پوري سياسي چاري پرمخ بيولي اوهمدارنگه دامريکا په استخباراتي اداره(سي ، آي ،اي) کي هم څوکاله کار کړيدي وايي : دکمونيزم ماته دگورباچوف دقدرت ته رسيدلونه مخکي پيل شوی دی .

نوموړي وايي : پدي کي هيڅ شك نشته چي دشوروي اتحاد ديرغل په مقابل کي دافغانانو مبارزه ډيره پياوړي مبارزه وه زما په فکر دافغانانو مقاومت نه يواځي دبالتيك جمهوريتونه دگورباچوف اوکمونيزم پر ضداوپارول بلکي دافغانستان جهاد له گورباچوف

سره ددغه حقيقت په منلو کي ډيره مرسته وکړه چي دروسي په سياسي نظام کي دفوري بدلون ضرورت يي

> دافغانانومقاومت خلك پدي پوه کړل چي کمونيزم نورپه چاباندي په زورنه تحميليږي نوهغه وچي دکمونيزم په مقابل کي مخالفت اومقاومت پيل شو .

محسوس کړ دافغانانو دجهاد برکت دختيځي اروپا دهيواد ونوخلکو ته هم ورسيد .

همدارنگه يوکوياما چي دسياسي علومو ماهر دی او د(ان) په شرکت کي کارکوي اودامريکا دخارجه وزارت مشاوردی اوپه دغه وزارت کي داروپا امريکا ، اوشوروي اتحاد دپوځي اوسياسي چارو مسوول هم دی خپل نظر داسي څرگند وي : زه فکر کوم چي افغانستان دکمونيزم دماتي يومهم عامل ؤ - افغانستان چي يو وړوکی هيواد دی او اقتصادي وضعه يي هم ښه نده نړيوالو ته وښودله چي دشوروي اتحاد غوندي ديوستر قدرت په مقابل کي په ميړانه مقاومت کولی شي دافغانانو دمبارزي دنړۍ نوروخلکو ته هم دآزادۍ درس ورکړ چي دکمونيزم جغ له اوږي ليري کړي .

شوروي اتحاد په يمن،کيوبا ، کمبوديا

دوي دخپل رژيم قرباني کړل .

يوبل ماهر دامريکا دخارجه وزارت متقاعد مامور جيمزتيلر دی.ده دخپل (۲۵)کلن ماموريت په دوره کي دافغانستان ، ايران ، جرمني ، روسيي کي دامريکا دسفارتونو دسياسي شعبو چاري پرمخ بيولي .

نوموړی دامريکا دخارجه وزارت دتحقيقاتو اواستخباراتو په څانگه کي دافغانستان په هکله دشوروي اتحاد د سياست اوپاليسی په رابطه تحقيقات اوڅيړني کولي - ده دکمونيزم دړيږ وړي کيدو دعواملو په هکله داسي وويل : ورو ستيو پيښو وښوده چي په کمونستي نړۍ کي نه چا په کمونيزم عقيده لرله اونه يي فکر کولی شوای چي دغه نظام به دچا نيکمرغي تضمين کړي په حقيقت کي کمونستي ايديالوژي نوره باطله شوي وه ، خلکو ليده چي په روسيه اوختيځه اروپا کي کمونستي اقتصادي سيستم هيڅ نتيجه نده ورکړي اوداخبره دلمر په څير روښانه شوي وه چي کمونيزم داسي يونظام ندي چي دخلکو اقتصادي ضرورتونه پوره کړي .

نوموړي دکمونيزم په ماته کي دافغانانو دمقاومت دونډي په باب وويل : زه فکرکوم چي پر افغانستان

> که په روسيه کي څوکاله نورهم کمونيزم چليدلي واي نودغه هيواد به ډيرسخت پرمخي لويدلی وی اوغاښونه به يي وتلي اوهډوکي به يي ريچي-ريچي شوي وو اوکه روسان دافغانستان په لاندي کولو کي بريالي شوي واي نونوره نړۍ به يي په ډيره آساني له ستوني څخه تيره کړي وه .

او... کي دخپل ديکتاتوري رژيمونه تحميل کړي وو خو دافغانانو مقاومت دروسانو تيری اودگوډاگي رژيم مرسته روسيي ته داقتصادي اوبشري قوي په لحاظ ډيره گرانه پريوتله دافغانانو مقاومت دشوروي اتحاد اقتصاد ډير کمزوری کړ .

تيلر وايي : پرافغانستان تيري شوروي د عامه افکاروترفشار لاندي راوست خلکو چي په افغانستان کي دروسي سرو لښکرو دظلمونوکيسي اوريدلي نودکمونيزم په ټولو کړو وړويه يي بد ويل .

نړيوال له چوپتيا

ذکي الله خان

دافغانستان دمسلمان اوقهرمان ملت بي دريغه قرباني ، لس کلن جهاد ، دکمونيزم له سره ښامارسره مقابله ددي باعث شوه چي نړي دکمونيزم دوحشي نظام له شره خلاصه کړي دسره ښکيلاك په لومه کي ښکيل شوي اوزبيښل شوي ملتونه راپاڅوي اودآزادي په خوږو يي ماړه کړي .

داهم له چانه پټه نه ده چي دگورباچوف داصلاحاتو پاليسي دده نوښت نه بلکه دافغانانو له لاسه دکمونيزم دشرميدلي ماتي نتيجه اودتنازع للبقا هڅه وه څوله دي لاري دکمونيزم وروست نظام په يوه بله بڼه وساتلي شي .

هو ! په افغانستان کي دروسانو نظامي اوايدیالوژيکي ماتي په نتيجه کي په شرقي اروپا کي قيامونه اوپاڅونونه رامنځ ته شول اودروس لاس پوځي رژيمونه يي رانسکورکړل ، منځنۍ آسيا چي له شپيتو کلونو راهيسي دکمونيزم په لومه کي نښتي وه راويښه شوه اودخپلي آزادۍ دترلاسه کولو له پاره يي قرباني ته ملا وتړله اوحتي په خپله دسپيني روسيي ښکيل شوي جمهوريتونه دکمونيزم دسره زنځيردماتولو له پاره راولاړ شول اوپه نتيجه کي ددنيا په سياست اوسياسي نقشه کي ژوربدلونونه رامنځ ته شول .

داهرڅه وشول خو گورباچوف چي له کوم ځاي نه مرگوني گوزار خوړلي ؤ هغي ځاي ته سخت خاړو اومتوجه پاتي شو ،دي په لټه کي شو چي دکمونيزم ددي ټولو شرميدنواوماتيدنوانتقام له افغانانو نه واخلي اوکه هر څوك ازادي ته رسيږي خوافغانان پرينږدي چي آرامي ووينې اوبشپړي ازادي ته ورسيږي ، دهمدي له پاره يي دنجيب لاس پوځي اومزدوررژيم چي دروس ترملاتړپرته هيڅ خارجي موجوديت نه لري ترغاښونوپوري په درنو ، وژونکو اوبربادوونکو وسلو مجهز کړ ، ظاهراً يي له افغانستان نه خپل مات شوي پوځونه وايستل خو په عوض کي يي خپل په زرهاو مشاورين ، دسکاډ ويشتلو ماهرين اونظامي متخصصين افغانستان ته راوليږل اودنجيب دگوړپه غاړه ولاړرژيم دساتلو له پاره يي دوحشت قومانده ورکړه . د نړيوالو باوري خبري منابعو دوينا له مخي روسيه دخپل اقتصادله ويجاړتيا سره سره هره مياشت دکابل رژيم دپايښت له پاره دري سوه ميلونه ډالره لگوي اوپه وسلو بار درني الوتکي هره ورځ دکابل په هوايي ډگر کي تشيږي .

له افغانستان نه دروسانو تروتلو وروسته په ټوله موده کي يوه ورځ هم داسي پيښه نه شوه چي دافغانستان پربيگناه خلکو دي بمباري نه وي شوي اوپه روسي وسلو دي شهيدان شوي نه وي داسلسله همدااوس هم په ډيره شدت روانه ده . "٦" ځ

جهادي ادب

تیغ کې دې ځلا دفاتحانو دغیرت وینم
بیا دې شاهینی سترګه کې نوردحریت وینم
ته یې ددې خاورې ازلي اوابدي وارث
بیا دې دتاریخ په تندي نوم دعظمت وینم

سیداسمعیل فاطمي

دماتم ډیوې

شفیقي

پرهسک دستورو سلسلی دي یو پربل پسې ځي
که دمهجوروقافلی دي یو پربل پسې ځي
لاندی دخدای (ج) پرځمکه بل دي دشیطان اورونه
زګیروي ،سنګی ناري سوري دي یوپربل پسې ځي
دکوم مرار پرسینه بلی دي ډیوی دماتم !
که درنواوسکو قطری دي یو پربل پسې ځي
دصبر ستنی ورانوي ، نور به محشر جوړوي
دسره سیلاب خوني څپې دي یو پربل پسې ځي
سلګی-سلګی ماحول وایي دستم رازونه
دتودووینو فواري دي یو پربل پسې ځي
دمظلومیت مظاهره ده دوحشت په وړاندې
دځوانیمرګو جنازې دي یو پربل پسې ځي
بلال (رض)یا سر(رض)ورته پراته دي دایمان پرډګر
دازما یلو مرحلې دي یوپربل پسې ځي
چې نړیوالو ته وروښیي اتل افغانان
څه زوروری زلزلې دي یو پربل پسې ځي
دقربانی لاره چې پاتی له لارویو نه وي
دځمکې غیږې ته غونچې دي یو پربل پسې ځي
دحق مشال دتروږمي توري لمني نغاړي
وړانګې یې لور په لور خوري دي یو پربل پسې ځي

هدیره

جهادګر

دلته پدغو غرونواودښتو کې یوه هدیره وه – یوه ډیره لویه هدیره – دانسانانو هدیره نه دمړو قبرونه، نه دټانکونو هدیره ،دتوپونوهدیره اودوسپنواوپولادو هدیره . دلته انساني جسدونه – نه بلکې پل په پل دوسپنیزو ټانکونو ویجاړ نعشونه پراته وو.

ددغه اوږده اومارپیچ سرک دواړوغاړو ته ستر پولادی ټانکونه یوه بله خوا پراته وواودیوي لویی استعماري امپراطورۍ دشرمیدلي ماتي اودیوه غیور اوفاتح ولس دعظمت دتاریخي یادګارونوخلي یې ودان کړی و و.

دادیوي استعماري اووحشي امپراطوري دظلم ، تیري اواستبداد ګویا نحښي و ي اودیوه غیور ، ننګیال اوشهادت پال ولس دقرباني ، مقاومت اوعظمت یوژوندي تاریخ دټانکونو دغه لوې هدیرې ، دتجاوز اوشکست ،قرباني اوسوبو داسي ابدي اوجاوداني داستانونه له ځانه سره لرل چې په لیدو یې داحساس اوجذباتو توپانونه راولاړیدل دقیامونو اوخوځښتونو قیامتونه راتېتیدل او دویاړونو اوافتحاراتو بهیر ونه په څپو کیدل .

خواوس دزماني پیرونو– دوخت ناکردو – دحا لاتو نادودو اودزماني بې تفاوتیو ددغه قهرمان ولس دسرښندنو

پاتې په(۵)مخ

دضمیر آواز

سعیدرهبر

څه شول څه شوې دضمیر د مدعیانو دلې
داچې دظلم حدماتیږي نودوی چرته ارسې
دانساني نیازبینې وېچې دحریت ملګري
نن چې نیازبین انسان قتلیږي نودوی چرته اوسي

چې لتارکیږي دنړۍ دخوشحالوکورونه
څه شي ددوی داحتجاج رویتونه څه شو
چې آدمیت ته خوارۀ شوي دستم دامونه
څۀ شو ددوی دحریت هغه دکرونه څه شو

چې دانسان په یې وجه پوري خنداجوړه ده
ددوی پښتون فکرېږي ولې هغه ننګ نه کوي
دوی ته نن کوچې الیسې دمجبورۍ ټینې دی
داچې یې حسه دریابونه دی غوځنګ نه کوي

دروڼ ضمیرمتاع یې نن کومې بلا نغرولی
نن یې په قن د مصلحت کړي پردې پرتې دی
نن یې د شوخ نظرشوچي دچانظرخوړلی
نن یې جذبې دویښ احساس ولې لوډې پرتې دی

نن یې په ویښ لمبه دلې خوږې ماحول کښې
د ښوب دخواحوږي هغه دستورچرته دی
نن یې د رود اوبربادی په خزاني موسم کښې
دچابیرچل دسوکالۍ هغه منشورچرته دی

څه شوه ددوی دمینه ناک غطرت پښتوچرته ده
داچې دمینې سوداګرنن شکلاکانې نغري
هغه یادونه دشبنم نرې کوم حکمت هیرکړي
چې دتیروځانن لګیا دي رنها کانې نغري

چې دغیرت ژوند ته یې چل په هرقدم جوړشوی
دادپښتودعویداران پرې ولې نه پوهیږي
چې په شملې یې استعمارتیږي دعوېرابینی ګډی
دادپښتودملک یاران پرې ولې نه شرمیږي

چې دعظمت چم کښې یې سورسامراج خوبونه کوي
دوی ته یې ولې پیغورونه سرا ورونه نه دی
افغاني ملالی ږدي یچیل ناموس سرونه
دوی ته یې ولې احساسونه نشترونه نه دی
چې دکشمیرشې ورشوکاني په لمبو ترتیږي
څه شو ددوی دقلم دمینې استدلال څه وایي
چې داقصی په منارو خوږې علیمان څرخونه
څۀ شو ددوی دایوبي مزاج جلال څه وایي

څکه ځوک وریشی دخوږې پښتونولې په نامه
خواخوږو ددوی ته ورپه یادکړئ پخواني وختونه
هغه دحق په حمایت کښې په نامه داسلام
دوی ته ښکاره کړئ داسلافو پښتي خوبونه

چې دغیرت دتاوه یاشي هنګامې جوړې کړي
چې ددنیا هریو سامراج ته اجلونه جوړشي
چې دکرېملن دلعنتي نظام سیېرې سینې ته
داسلامي ننګ اومرانې خنجرونه جوړشي

جهادي فولکلور

وایی یوه ورځ «عصمت» دخپل ملګري څخه وپوښتل : پوهیږې چې په نړۍ کې ترټولو ناپیلي هیواد کوم دي؟

ملګري ځواب ورکړ : دکابل ګوډاګي نکوی رژیم .

عصمت بیاتري وپوښتل : څنګه ؟

ملګري ځواب ورکړ : په دې خاطر چې په خپلو کورنیو چارو کې هم مداخله

لنډۍ

چې دتکبیر اواز ترې خیژي
هغه طرف به کامیابی حاصلوینه
دحق په لارکی تاوان نشته
په مرګ شهید په ژوند غازی بللی شینه
مجاهدینو سره یوشئ
بریالیتوب تل دوحدت تورو کې وینه
دجهادي سنګر په څواکې
دادبی سنګر راکش کړئ تنابونه
دفتحې وخت رانژدې شوي
څکه د منمن سیاسي چلچغی وهینه

حیات‌الله خان حلیم

سینه پاکه له وهمونو، له وسواس را
سند، محیط کې مې آوازله انعکاس را
چې خدمت یې قوت وکړې قام،تهېرته
هغه مټ ،هغه بازواو هغه لاس را

د سمسور منزل په لور

ادبي ټوټه

هاشمي

یوه ستر هدف ته درسیدو په هیله یې په یوه ستونز وره لاره دتللو تکل کړي ؤ.دخپلې سپیڅلې عقیدې په رڼا کې یې دیو ستر مسوولیت اومکلفیت دسرته رسولو احساس راپاڅولی وو .

الهي احکام اونبويٌ ارشادات یې دلارې دتیاره ګوټونو دروښانولو څراغونه . ایمان اوپر خدای (ج) ټینګه عقیده یې داډ منه اوکارنده (فعاله) وسله ، دیني او ایماني جذبه یې دحرکت اوخوځښت اساسي محرک ؤ .

هغوی ته له پیله دخپلې پوهې اوبصیرت له مخې ددې لارې توا ل کړلیچونه ، ځوړې اوپیچومې معلوم وو اوپه دې ښه پوهیدل چې پردغه لاره تلل یوعالم کړاوونه اوربړې په مخکې لري .

پر خدای (ج) باندې له ټینګې عقیدې وروسته له سر اومال نه تیریدل په دې لاره دتللو لومړی شرط ؤ ځکه خو هرچا ورسره په تللو کې ملتیا نشوای کولای او به پیل کې یې دلارې ملګري دګوتو په شمیر وو ، خو دخپلې داعیې حقانیت په دې ډاډه کړي وو چې مله به یې له یوې ورځې نه بلې ته زیات شي اوډیر وګړي به په دوي پسې پر دغه لار راشي .

ځینوخلکو به ورپورې ټوکې مسخرې کولې . چا به یې داتکل

پاتې په(٦)

ولسي ادب په وړانګوکې

خدای به راولي سپرلي په وطن بیا
په سرو ګلو به ښایسته شي چمن بیا
تول هیواد به شي سمسور ښکلي ناڅه
طوطیانو به پسرې جوړې اتڼ سپې
دخزان شو مه لمن به شي ورټوله
سپیره مخ به یې شي تاوپه کفن بیا
پسر لیه برکت ستا دراتللو دی
راغي ، راغي توربلبل په چمن بیا
کرغیړن زاغان مورشړل له باغه
بیا به نه راځي دا تورلوغړن بیا
شاړې ځمکي ودانیږې خړو بیرې
دهقان واخیسته
زه «هوتك» دخپل بوستان ځني یې ورمه
تري نه دګه دګلونو لمن بیا
هري خواته ننداري ښکلي میلې دي
په ارمان اوپه هوس په امن بیا

هوتك

جهادي ادب

د جهاد خاطري

زبير شفيقي

اومرګ خپل رنګ بایللی ؤ

هغه صحنه ما په خپلو دغو ګناهګاروسترګو لیدلی اوپه غبرګو غوږونو مې اوریدل ، خو اوس به څوك داوښيي چې داكوم شاعرانه تخيل اوافسانوي انځور نه دي كټ مټ رښتيا دي ؟!

هيوازي داخبره ماته پوره ډاډ رابښيي چې نن زما اوستا په وطن كي په سلګونو داسي پيښې اوحادثې راځي چې نړيوال يې د شك په سترګو ګوري ځكه رنده نړۍ خو زمونږ دقربانيو به زورشپېل شوي پردي لښكر وبام اوافتخارهم امريكايي وسلواودپرديو پرمرستو پوري تړي خوماواوتاته خوښه معلومه ده چې دروس لښكري چا وشړلی ؟!

روسان دكوم سمندر په څپو كي ډوب شول ؟!...

نن‌وطن دځوانانو يوه تانده ځواني دحادثو په توپان كي ماته شوي وه دځواني له ګلبڼ نه يوه داسي غوټۍ‌بي وخته پاڼي پاڼي وه چې‌دژوند نسيم ته يي لاخوله پوره په موسكا نه وه غوړولي نن دجهاد له اسمان نه يو روڼ ستوری پريوتی ؤ اونن داسلام په مورچل كي ديوه اتل ځوان ، ارمانجن زلمي اوجذباتي مجاهد دتكبير ناري چوپي شوي وي ،اودهغه جنازه زمونږ په اوږووباروه دهغه دټوټي ټوټي بدن عوښي ، په وينو لړلي اوټاروټو په زورټوك ټوك اوڅپك څپك وي په لاره كي له هر كلي نه دشهيد بدرګه لازياتيږي اودرنيږي اوپه درنه بدرګه دخداي (ج) نازولي بنده دخپل كار اوخپلي بوډۍ مور دجونګړي په لور روان دي .

پرهغو داوښكو بارانونه دي له زړونو وينې څاځي اوله سترګو اوښكي نن بيا زمونږ دخوښۍ پر كليو دغم اوماتم سيليو چپاوراوړي . اوچي دغم بوج دزړه له مور ګو واوړي له سترګو نه داوښكو په څېر په ګريوانونوراتويږي شي خوتودي اوښكي دزړه ځوبل كله سړولي شي ؟! اوس به ديوه زلمي دغوښو اوهډوكو ځپلي په وينولړلي ټوټي دهغه بوډۍ مور ته په مخ كي كيښودل شي نوبيا داكوم عقل منلي شي چې دبوډۍ‌موركريكي به دنيا و نه لړزوي دعرش منارو ته به يي غږاوچت نه شي ؟!!

نورنو وړاندي دكمكي اوژورخوړ په غاړه دخاوريني غونډي په لمن كي هغه كلي هم راورسيد چې شهيد پرون تري ژوندي راوتلی ؤ ، همدغه زلمي پكي زيږيدلي ، لويدلي اودزلمي توب بڼ ته رارسيدلي ؤ دكلي په مخ كي ډيرې تورسري اونارينه راوتلي ، يوه وړوكي خواره اوډنګره بوډۍ ترنورولږ دمخه ده دشهيد له درني بدرګي نه ډيرو خپلي څيري دخوږ په يوه اوبله غاړه كي پناه كړي .

هغه ځوانان چې پرون به يي ددښمن ګوليو ته يوبل ته ځانونه سپر كول او دمرګ استقبال ته يو له بله مخكي كيدل اوس يو دبل تر شا ځانونه پټوي ، غواړي ځانونه دبوډۍ له نظره پناه كړي لكه چې دبوډۍ‌مور دنظر غشي ددښمن له ګوليو نه هم تيز اوځواكمن وي چې ترزړونوبوټ وزي ، ټول يو دبل ترشا كيږي او په پاي كي بوڅو دسږو تودو تيرو كړو تجربو پخي ستي دټولو دمخه شي ، يونوراني سپين ږيري بوډۍ مور ته وروړاندي كيږي :

خوري ! صبر كوه دخداي (ج) امردربانـدي شوی دی ، بې صبري اوفرياد هيڅ ګټه نه لري ، شهيد دی شكر باسه چې خداي (ج) دزوي ته دومره ستره درجه وركړه .

ماحول ټول غوږغوږ اوسترګي سترګي شو ،چې دزوي مړي ابۍ‌په څيره كي به څه ويني اودهغه له سپيروشونډو به څه اوري ؟!!

يوه شيبه داسي چوپتيا خوره شوه لكه په دنيا چې دژوند نښه نه وي ، دبوډۍ ابۍ په سترګو كي دوه څاڅكي وځليدل خوزريي ورته دصبر بندونه وتړل اوشيبه پس يي په كسيو كي بيرته ورك شول ، دهغې په خوله دموسكا سپكه اوپيكه څپه راغله دمقاومت اوټينګار پيكر خوله چوله كړه سكوت مات شو اودبوډۍ‌زوی مړي لـه خولی رسا غږ په فضا كي ازانګي وكړي :

دخداي (ج) ... مي په سترګو منلي دي ، شكر د... زوی مي دخداي (ج) په لاره كي شهيد شو ، زه مي دزوي شهيدګي نه خرابوم ، راوړئ زه خومي دځوانيمرګ ديدن وكړم.راوړي زما پر دين قربان شوي غيرتي زوي !

دابۍ‌هره خبره يوه‌امسا وه چې مورته يي په لاس راكوله ،هر ټكی يي يوجهان ډاډ اوتسلي، وه مور ديوه مؤمن بچي په قربانۍ ديوي مؤمنې موربي مثاله زغم اوصبر ليده او په شلمه پيړۍ كي مو د حضرت خنسا «رض» په څېرې باايمانه اوغيرتي مورسترګي لګيدلي.مرګ زمونږ ترسترګو لاندي مړشو اودشهادت پر ابدي سعادت مو لاپوخ باور اويقين.مونږ شاهدان ووچي دډېري بوډۍ مخي ته يي دهغه دزړه دټوټې جنازه كيښود ه،خو دهغې په څيره كي دوير اوغم په ځاي دوياړ اوافتخار نښې وي ، په خوله يي دژړا په ځاي يوډول مرموزه اوله اسرارو ډكه موسكاوه داسي لكه خپل زوي چې همدااوس دجنت په باغچوكي ويني موږليدل چې مرګ خپل رنګ بايللی ؤ .

هومونږ پري شاهدان وو وداټول موپه غبرګو سترګو ليدل.

د سرمنزل په لور ..

اواراده دجنون اوناپوهۍ نښي ګڼلې اوچا به يي په ټولنه كي په يوه اوبله بڼه دتحقيرولو او تجريد ولو هڅه كوله اوچاپه ...

خودوي يوځل پر دغه لار دتللو اوهدف ته درسيدلوپخه اراده كړي وه دخلكو پوچو اوبي معني خبرو پسي نه ګرځيدل اودهدف پر لور مخ په وړاندي روان وو.

دوخت په تيريدو اودحالاتو په بدليدلو يي بيا په تدريج سره بيا دملت ټول مؤمن وګړي پر دغه لاره دوي سره تللو ته چمتو شول اوالهي ازموينې په ډګركي دباطل پر ضد دحق په سنګركي ددوي ترڅنګ ودريدل اوهغه ورځ هم راورسيده چې زياته نړۍ ددغه ستري داعيي پر حقانيت اوددوي پر سپېڅلي اوكروړلي عقيده ، عزم ، شجاعت اومړانه اعتراف وكړي اودظلم اواستبداد له منګلوڅخه دخلاصون اوژغورني په خاطريي له جدوجهد نه الهام واخلي .

دغه كاروان هدف ته درسيدو په لار له ډيرو كړليچونو اوخنډونو نه بريالي تيرشو اولانورهم بي په مخ كي شته .

هرځل چې هدف اوسرمنزل ته نږدي شوي خپل منځي بي اتفاقيو ، ځان غوښتنو اوبيروني لاسونو دبري په پوله نسبي ركود سره مخامخ كړي دكاروان پر فضا دځه ناځه نهيلۍ اومايوسۍ لړې راخوري شوي ، خوبيا ډير زر دلوی خداي (ج) په نصرت او ددي كاروان دواقعي زعيمانو په عالمانه تدبيرونواوعملي نوښتونو دركود اوسكوت حالت مات شوي اوكاروان ته دوړاندي تګ لاري چارې برابرې شوي دي .

اوس خو كاروان دبري وروستي پړاو اوسرمنزل ته بيخي نږدي شوي اوهغه ورځ لري نه ده چې مونږ هغه ستر هدف ته چې هغه ته درسيدو په لار مودا دومره كړاوونه وزغمل ورسيږو .

دجهادادبي كتابونه

سميع‌الله‌ تازه

دكتاب نوم : تلپاتي يادونه
كچه : ۱۲×۱۷
ليكوال :تورپالي ځاځی
خپرونكي : فرهنګ جهاد
نيټه ، ۱۳۶۹هش جوزا

«جهادهنداره » به په هره ګڼه كي دجهاد نوي خپاره شوي ادبي كتابونه معرفي كوي هيله ده خپرونكي مؤسسي اوليكوالان پدی رابطه له مونږ سره همكاری وكړی .

«تلپاتي يادونه» په نامه كتاب په (۱۱۲) مخونوكي پدي وروستيو وختوكي له چا په راوتلي.داكتاب كه څه هم دحجم له مخي ووړخودمعنا له مخي درونډ كتاب دي.پدي كتاب كي دافغان مسلمان اومجاهد ملت ځني جهادي خاطري انځورشويد ي.دهغو قربانيو اوقهرمانيو خاطري دي چې زمونږبيوزلي خو غيرتي ملت دروسي تيري كوونكو اودهغوي دوحشي سره پوځ او دكابل دكمونست رژيم دبي كچه ناروا و اوظلمونو په مقابل كي مثالي مقاومت كړي اودخپلو وينو په تيلويي دآزادۍ ډيوه بله ساتلي ده .

پدغه كتاب كی شل خاطري ځاي شويدي چې اووه‌يي دشعر په ژبه اونوريي درپوټ اولنډو كيسو په چوكاټ كي كښل شويدي .

ليكوال دخاطرو په بيان كي ساده اونګه پښتو كلمي ، الفاظ اواصطلاحات كارولي دي چې دكتاب ادبي خوايي ښه درنه كړيده . څرنګه چې ليكوال ژورناليست هم دي نو پدغه كتاب كي ددي دواړو مسلكونو مزه اوخوند ښه ترسترګو كيږي .

كه ددي كتاب ادبي شكلا يوي خواته كيږدو نوددي كتاب لوستل خولدي دركه هم لاخونده وردي چې هم زمونږ دمجاهد ولس دقربانيو اوميړاني وړانګي پكي ځليږي اوهم زمونږ دقهرمان ملت پر ضد دكمونستانو ظلمونه اوناروا و انعكاس پكي خوندي شويدي.ليكوال په هره خاطره كي خپل «پيغام » لوستونكي ته رسولي دي چې دمتجاوزينو پر ضد زمونږدملت مقاومت اوناپايه سرښندنه اودغه قرباني ته دخلكورابلل او دجهاددجذبي ژوندي ساتل دي.

دغه خاطري چې دهيواد دبيلا بيلو سيمو له كابل څخه ترپروانه اوله هغه ځايه ترپكتيا اوبيا دپيښور دمهاجرت تر كمپونو پوري پكي ځاي شويدي زمونږ دجهاد اوهجرت دبيلا بيلو اړخونو انځور ګري وړاندي كوي .

دغه خاطري چې په عمومي توګه غم لړلي اوغمجنه بڼه لري خو ليكوال دهري خاطري په پاي كي دمقاومت روح اودبرحق جهاد قدسيت ژوندي ساتلي اولوستونكي روحيه نه پريږدي چې دخاطري غمجن پاي تراغيزي لاندي مړاوي شي .

مونږ دغه كتاب خپراوی دجهاد دادبي پانګي په بهير كي يوه ګټوره اضافه ګڼو اوورورتورپالي ته يي دچاپ مباركي اوپدي لاركي دزيات توفيق دعا كوو .

هرهغه يوقام چې يې برباد كړل بهارونه
ده‌سره جوړېږي الوتلي نكهتونه
ځكه يې له خاوره ويدي ګلي رانه‌غونچې
څپله دقبانه يي الوتي وي رنګونه

***

خدای هغه ملت په سرداری و نه‌نازولو
چا يې خپل تقدير په‌خپلو لاسو ونه‌ليكلو
هيڅ يې سروكار د هغه قامه سره نه وي
خپل ملك يې دهقان چې بل ته په‌اره وركړلو

« اقبال »

سحر ميګفت بلبل باغبان را
درين ګل جز نهال غم نګيرد
به پيری ميرسد خار بيابان
ولی ګل چون جوان ګردد بميرد

علامه اقبال

هديره ...

فتحو اوقهرمانيو دغه ژوندي تاريخونه اودغه تاريخي يادګاري ځلي پخپل كومي كي نغښتي دي او دنيستي په سيليو كي يې دتوند وبږ بوكيو خولي ته اچولي دي اودا دايثاراوقهرمانۍ نخښي - دقربانۍ اوعظمت يادګارونه - دفتحو او حماسو داستانونه - دحق اوباطل دمعركي حقيقتونه او تاريخونه دخپلو دجفا ګانواوبي قدريو - ښكار ګرځيدلي دي چې له يوي خوا ددښمن دوحشت څيره له تاريخ څخه پټوي اوله بلي خوا دولس دعظمت اوقهرمانۍ نخښي له منځه وړي،

دمقاومت دبري په لارکي ستونزي او خندونه

د تیري ګڼې په دوام

خو دروسانو وارخطايي دي حد ته رسيدلي وه چه دخارجه چارووزير «ايډوارډشيوارنادزي» پخوا ددي څخه چه دژنيو موافقات لاس ليك شي په هندکي يوه مطبوعاتي کنفرانس ته څرګنده کړه چه که دژنيو موافقات لاس ليك شي اوکه نه روسي عسکر به دافغانستان څخه ووزي په دي مرحله کي دامريکا حکومت دافغانستان څخه دروسي عسکرو، دوتلو به اړوند دنظرله مخي په دوه برخو ويشل شوي ؤ يوي ډلي دانظر درلود چه په افغانستان کي دروسانو موجوديت اوهغوي ته اقتصادي ضربه دامريکا دمتحده ايالاتو په ګټه ده اوبايد نور هم وځپل شي خوبلي ډلي بي دافغانستان څخه دروسانو تيښتي ته ترجيح ورکوله خوروسانو خپله بدمرغه اوکرغيړنه څيره په اوبو کي ليدلي وه اوچاپه څنځيرونوهم نه شول راتم کولي چه بالاخره به ۱۳۶۷ هـ ش کال کي روسي وسله والي قواوي له افغاني خاوري څخه وتښتيدلي اوبه افغانستان کي دروسي کمونستي استعمارژرنده ماته شوه خودختري خوځيدل بي لاتراوسه هم دوام لري .

له افغانستان څخه دروسي عسکرو دتيښتي په مرحله کي دروسانو لاسکينولي رژيم نظامي نيرو او جګړه‌ايز مورال خورا کمزوري ؤ حالات داسي ؤ چه که چيري شرائطو تغير نه وی کړی په ډير کم وخت کي به روسي ګوډاګيان دخپلو ګناهونو په سزارسيدلي ؤ اوبه افغانستان کي به بوآزاد اسلامي نظام رامنځ ته شوی وای خو په افغانستان کي ديوه خالص اوسوچه اسلامي حکومت له ينګښت سره هم روسانو او هم غرب دخپلو استعماري اهدافو له مخي موافقه نشوای کولای .

کله چه روسان په دي پوه شول چه افغانانوته په افغانستان کي ددوي عسکري قواوي او ددوي لاس کينولي ګوډاګيان سرطاني غده ګڼي اوهيڅ يو مسلمان او په وطن مين افغان دهغوي منلو ته تيار ندی نو په افغانستان کي بي ديوه سيکولر او په اصطلاح بي طرفه حکومت او رژيم منځ ته راتلل بخپله ګټه وګڼل او دامريکا متحده ايالاتو سره بي په دي اړوند خبري اتري شروع کړي .

دامريکا متحده ايالاتو غوښتل چي روسي نظامي قواوي په افغانستان کي له ماتي سره مخامخ شي خوکله چه دافغانستان قهرمان ولس په افغانستان کي دروسي کمونستي امپراطورۍ درانسکورولو او داسلام او وطن دخپلواکۍ بخاطر دجګړي داورلمبوته ورودانګل به روسانو او ددوي به لاسپوڅوڅي محشر جوړکړ نودامريکا متحده ايالاتولپاره خوراً به زړه پوري ؤ اوهغه وخت بي هيڅکله هم دسيکولر يا بي طرفه حکومت اوبه غرب کي دميشته عناصرو نوم هم نه اخيست او دادساړه ميدان کاغذي زمريان چه په اصطلاح اعتدال خوښوونکي بي بولي هغه وخت چه دروسانو سره به افغانستان کي دجګړي داورلمبي اوچتي شوي دغرب لوري ونيو اوله جهاد څخه ليري پاتي شول اوکله چه ښامارمړشونو اوس خــــــپلي زنګ وهلي چاړي دمړه شوي ښامار په وينو کي سري کوي او دتخت اوتاج دنيولو لپاره راټيل وهل کيږي .

هغه وخت چه روسي عسکرله افغانستان څخه وتښتيدل دافغانستان دمسٔلي په اړوند دامريکا متحده ايالاتوپه سياسي تګلاره کي دخپلو ګټوپه نظر کي نيولو سره غټ بدلون رامنځ ته شو . دامريکايانو لپاره نورنو روسان او دهغوي مزدوران ځکه ديو بنسټيز خطر په توګه نه حسابيدل چه روسي نظامي قواوي له هغي شرميدلي ماتي سره چي په افغانستان کي ورسره مخامخ شوي له هرډول تهاجمي حرکت څخه پاتي کړي ؤ، روسي ګوډاګيانو خپل شوم انجام په خپلو سترګو وليد،له خپلو څانوڅخه بي زاره شول هغوي دکمونيزم دخيالي جنت افساني تجربه کړي او دهغوي سوځوونکي،ورانونکي اوآفت راوړونکي توپان بي په عملي ډول وليدلو نو که چيري دروسانو هغه ځنځيرمات شي کوم چه دوي بي پري تړلي دي نو بيا به تر قيامته دشمال نوم په خوله رانه وړي ددي په څنګ کي دامريکا متحده ايالات هغه حالات او ببيښي کوم چه په دي وروستيوکي په ايران کي ورسره لاس به ګريوان او مخامخ شول نشي هيرولي او په افغانستان کي دهمغسي حالاتو دمنځ ته راتلو مخنيوي په هره طريقه او لاره چه وي په خپله ګټه بولي .

اصل مطلب خو دادي چه دهغه حکومت او دولت خپلواکي او استقلال کوم چه دکابل لاسکينولي رژيم څخه وروسته رامنځ ته کيږي اودافغانستان سرنوشت او رهبري ور په غاړه کيږي

په دي پوري تړلي دي چه دنوموړي حکومت او دولت په رامنځ ته کيدوکي څوك څومره ونډه اخلي . که چيري راتلونکی حکومت او دولت کوم چه دروسي لاسپوڅو ځاي نيسي په ټولو اړخونو کي دافغانستان په مسلمانو خلکو پوري تړلي وي او دافغانستان دخلکو دهيلو او ارمانونو له مخي رامنځ ته شي نو داسي دولت خامخا دريښتني خپلواکي او استقلال ضامن کيداي شي .

روسان دخپلوګوډاګيانو په تعويض او بدلولو کي کوم عمده او اساسي مشکل او پرابلم نلري خو امريکا دهغو په اسلام او خپلواکي مينو ښتنګانو به اړه چي دکمونيزم استعماري امپراطوري په وجود کي لم زانده تبه رامنځ ته کړه او دافغانستان څخه يي دروسانو وحشي فوځ تيښتي ته مجبور کړ دغټ پرابلم سره مخامخ شويدي ، ځکه چه دافغانستان مجاهدين اومسلمان ولس به افغانستان کي يو سوچه اسلامي او بشپړ خپلواك افغانستان غواړي په داسي حال کي چه امريکا دخالص اوسوچه اسلامي حکومت څخه تيښته او ويره لري نو دنړۍ سترو قدرتونو په افغانستان کي ددداسي يو حکومت درامنځ ته کولو هڅي شروع کړي چه لکۍ بي دغرب ترپښو لاندي وي او دروسانو سره هم دجينګو داړوخندا هيره نکړي همدارنګه دامريکا متحده ايالات او ورسره به پلان کي شريك انډيوالان بي هڅه کوي چه دا جګړه ترهغو پوري تود ه وساتي اوهيڅ لوري پوره اوغوځ بريالیتوب ته ونه رسيږي ترڅو پوري چه په افغانستان کي ددوي دخوښي حکومت دجوړيدو لپاره پوره شرائط رامنځ ته شوي(نه وي) له دښمن سره(دغه) هدف په ترسره کيدوکي ځينو پيښنو ترډيره مرسته وکړه اوکوي بي.

نتيجه داچه که چيري زمونږ په کورنيو چارو کي باندينى مستقيمي اوغير مستقيمي لاس وهني نه واي نو د افغانستان مسلمان ولس به داربړونکي حالت نه درلود او که چيري روسي فوځونه افغاني خاوري ته داخل شوي نه واي ددوي مزدوران به دافغانانو دقهر اوغضب په اورکي ډير زر سوځيدلي ؤ همدارنګه که چيري دافغانستان مجاهد ولس سرښندني اوبا توري نه واي روسانو به افغانستان په خپله امپراطورۍ پوري تړلی ؤ .

باندنيو قدرتونو دافغانستان څخه دروسانو دتيښتي سره سم روسي مزدوران دمختلفو لارو او په ډول ډول شکلونو تقويه او دمجاهدينو په جهادي قوت کي بي دکمزوريو پيدا کولو هلي ځلي شروع کړي اوکه چيري داسي نه واي نو دروسانو لاسکينولي مزدوران به په څو مياشتو کي له پښو لويدلي او دخپلو خاينانه اعمالو به سزا به رسيدلي ؤ نو په داسي حال کي چه مجاهدين دبريالیتوب ورروستۍ پولي ته رسيدلي او حالات به سخت نازك پړاو کي قرارلري ځکه خو ټولو جهادي قوتونو ته ضرورده چه خپل خواره واره مجاهدين سره بو ، غټ اوواړه اختلافونه حل او ديو ه منظم اسلامي غورځنګ په توګه پر کورنيو او باندنيو غليمانو باندي آخري راپرځوونکي ګوزارونه وکړو او په دی دشهيدانو ، غازيانواو ننګيالو وطن اودغيرتونو خاوره باندي داسلام او خپلواکۍ بيرغ دتل لپاره لوړاوچت وساتو .

«پاي»

استاد سیاف په ...

دتنظيم هر فرد صلاحيت اومسووليت لري چي دخپل تنظيم دنماينده په توګه فيصله وکړي ، برخه پکي واخلي ، ملاتړ اوهمکاري ورسره وکړ ي دافيصله به دټول تنظيم فيصله وي اونافذه به ګڼل کيږي . .

زمونږ جهاد ديوه پاك اولوړ مرام اوهدف له پاره پيل شوي اواوس چي زمونږ جهاد يوي حساسي اوځانګړي مرحلي ته داخل شويدي اودجهاد دثمري دراغونډولو وخت دي ځکه خوله بل هروخت نه زيات داجهاد اودهغه اهداف ساتني اوحفاظت ته ضرورت لري.

.موږ الحمدلله دجنګ په ډګر کي دښمن له شرميدلي ماتي سره مخامخ کړيدي نوبايد پري نږدو چي دښمنان دجهاد ثمره اولاسته راوړني راڅخه ولوټي.زمونږ دجهاد دښمنان په کمين کي ناست دي اومذبوحانه هلي ځلي کوي چي دجهاد اهداف تحقق ونه مومي.

استاد سياف وويل : موږ دقوماندانانو دشورا تائيد اوملاتړ کوو اودغه وړشورا ګاني دهغو داصولي موقف له مخي دمقاومت له پاره مؤثري اوضروري ګڼو؛ موږ مخکي هم ويلي اواوس يوځل بيا وايو چي داتحاد له پاره دهرقدم اوهرحرکت ملاتړ په هر افغان فرض دي، ځکه خو داتحاد په لارکي چي دهرچا له خوا کوم قدم پورته کيږي هغه بايد تائيد شي اوملاتړ يي وشي .

استادسياف دخپلو خبرو په ترځ کي وويل : ديني علما وظيفه اومسووليت لري چي داختلافاتو دله منځه وړلو له پاره يولاس اويو موټي شي .

استاد سيّاف په پاي کي وويل : له دښمنانوڅخه ګيله نشته اصلي مشکل په موږ کي دي چي پخپلو کي سره متحد نه يو اواختلاف لروترڅو پوري چي متحد نه شوجهاد ثمره به زمونږ په خولۍ کي ونه لويږي.

د مهاجرينو دبيرته ستنيدو په هکله دملګرو ملتونو پروګرام له ناکامۍ سره مخامخ شويدی

جنګ راولپنډي دنومبر ۱۲ :

لکه چي دمعتبرو ذرايعودخپرونوله مخي څخه څرګنده شوي دافغان مهاجرينو لپاره دملګرو ملتونو دعالي کمشنرله خوا دروان کال دجولاي له مياشتي څخه راهيسي خپل هيواد ته پخپله خوښه دافغان مهاجر ينو دبيرته ستنيدو پيل شوي پروګرام له ناکامي سره مخامخ شوي دي .

خبرزياتوي چي په دغو تيرو څلورومياشتو کي تقريباً (۱۲) دولس زروکورنيو خپل راشن پاسونه مربوطي اداري ته سپارلي دي،خوتراوسه پوري دانه ده معلومه شوي چي ايا دغه کورني رښتيا هم افغانستان تللي اوکه نه ځکه چي مخکنيو تجربو ثابته کړي چي کله هم دمهاجرينو کومه کورني خپلي سيمي ته تللي دروسانو دمزدوررژيم دبمباريو له امله بيرته هجرت کولو ته مجبوره شوي .

خبر وايي:سره له دي چي مهاجرينو ته دبيرته ستنيدو په مقابل کي دمربوطه اداري لـه خـوا (۳۳۰۰) روپـۍ او(۳۰۰) کيلوګرام غنم هم ورکول کيږي خو مهاجرين په دغسي حالاتو کي چي هلته يي دهستوګني شرايط نه وي برابر دي ته حاضر نه دي چي خپلو سيمو ته لاړ شي . ددغه پروګرام دپاي ته رسيدوموده د اکتوبر (۱۵) نيټه تاکل شوي وه خو دناکامي په نتيجه کي بې موده دراتلونکي کال ترمارچ پوري اوږده شوي ده .

اويو ځل بيا داحقيقت ښه څرګند شو چي : ښکيلاکي ځواکونه يوازي خپلو اهدافو ته تر رسيدو پوري ياري کوي اوبس .

نړيوال له ...

نړيوالو سياسي اوبشري حلقو په تيرو وولسو کلونو کي که څه هم دافغانانو مصيبتونه اودروسانو وحشتونه ډير ږيادول اوپه سلوکي يي يوهم حق نه داکيده خو بيا يي هم حداقل يادول ودافغانانودقهرمانانه جهاد اومبارزي نظي ملاتړ کاوه .

نواوس چي ګورباچوف په ختيځه روپا کي غرب ته سياسي رشوت ورکړ ودغربي تجارت پيشه ځواکونو دتجارت لاري يي دختيځي اروپا هيوادونوته خلاصي کړي. نودافغانستان په موضوع کي يوه بشپړه چوپتيا رامنځ نه شوه ، نړيوالو په افغانستان کي دروس پر روان وحشت سترګي پټي کړي نه يوازي دابلکه دلکونو افغانانو قاتل ګورباچوف يي دنوبل دسولي په جايزه هم ونازاوه اودادسولي لوي دښمن يي دسولي دداعي په حيث معرفي کړ.

تازه

چراروسها ازرژیم کابل حمایت مي کنند ؟

تلفاتیکه روسها درافغانستان متحمل کردیدند تجربه بسیار تلخ بود که برروحیه روسها اثر انداخته است خصوصاً با وقوع تحولات بزرگ اثرات ان بیشتر مي شود .

این مطلب راپروفیسور گویتر استاد یونیورستي نبراسکا وکارشناس امورافغانستان ضمن مصاحبه با خبرنکار رادیو صداي امریکا ابراز نموده وافزوده است : ادامه قدرت نجیب بعد ازخروج قواي روسي وفقدان تحاد مجاهدین وجریانات دیکر به ر... ا فرصت تازه مهیا نمود تاا... ك درافغانستان انجام داده اند توجیه نما...

پروفیسور موصوف درارابطه باين سوال که چرا روسها با وجود مشکلات داخلي به حمایت ازرژیم کابل ادامه میدهند گفته است موضوع پایان مداخله شوروي در افغانستان هنوز هم تااندازه زیاد زیر تاثیر عناصر نظامي ودستکاه (کي ،جي ، بي) شوروي است زیرا انها دررابطه به افغانستان هنوزهم به سیاست بریژنیف معتقداند .

بهر صورت انها فعلاً یك گروه نیرومند ودارای نفوذ کافي رادردستکاه دولت روس تشکیل میدهند تاگرباچوف راوادارسازند که به موضوع افغانستان اززاویه دیگري نگاه کند .

گویتر گفته است شاید دلایل دیگري براي این کار وجود نداشته باشد درین وقتیکه اقتصاد شوروي بسیارناتوان است وبیش ازسه ملیارد دالر به حمایت ازرژیم کابل بمصرف برساند توجیه نماید

پروفیسور گویتر دربرسي عوامل ادامه قدرت نجیب وترغیب روسها به حمایت ازوي گفت روسها بخاطر صدمه بسیار بزرگي درجنگ افغانستان دیده اند حاضر نیستند انرا از دست بدهند .

وي درادامه گفته است : من دردوران مذاکرات کمیته خاص روي منازعات منطقوي دراتحاد شوروي ازنظریات بعضي اشخاص چنین انتباه گرفتیم که بسیاري ازمردم شوروي میخواهند هرچه زودتر ازموضوع افغانستان رهایي یابند ،ولي انهاي که باین موضوع بسته هستند برسیاست بین المللي طوردیگر نگاه مي کند

****

حمایت ملت قویتر..

رهبران رژیم کابل بیادداشته باشند که سلاح نمیتواند مجاهدین راار مواضع ودایهٔ برحق شان به عقب نشیني مجبورنماید . درطول دوازده سال گذشته روسها وکمونست هاي کابل تمام ان سلاح هاي راکه درزرادخانه خویش داشتندویا جدیداًساخته بودند درمقابل مجاهدین وملت ما به ازمایش گذاشته مخوف ترین سلاح ها راازمایش نموده بمبهاي به انواع مختلف به شمول گازات کیمیاوي راعلیه مردم بیدفاع وملکي افغانستان استعمال نمودند اما نتیجه همه انها این بود که ملت با شناخت دقیق تردشمن بیرحم درمقاومت خود راسخ ترو باعـزم ترمي گشت .

مردم شجاع ومسلمان ما عواقب بسیار ناگوار وویراني غیر قابل باورسلاح هاي روسي رادیدند اثرات وخیم استعمال سلاح گازي وسمي دشمن رانیز دراراضي وقریه هاي خویش به چشم سرمشاهده کردند . استعمال بمبهاي بزرگ که به اصطلاح عام بنام (بیلري) یادمي شود وبمبهاي پخش کننده ماین رادیدند.

عواقب زیا نبار سي ملیون ماین روسي راکه درکشورما ازطرف روسها ورژیم نوکرآن بخاطر کشتار مردم ملکي کشت شده روزمره مي بینند.

اگر پیروزي با سلاح ممکن مي بود قواي وحشي روسي که تا دندان مسلح بودند وبه عزم تارومارکردن مقاومت ملت علیه کمونست ها بخاطر اشغالگري به کشورماامده بودند موفق مي شدند .

لذا رهبران کمونست رژیم کابل باید بدانند که انها رادیگر ملت مسلمان افغانستان قبول ندارد اگر انها هر چند سلاحهاي بازهم بیشتر وبهتر راازروس که حامیان شان است بدست اورند عزم آهنین مجاهدین رابخاطر آزادي کشورازلوث کمونیزم تضعیف نموده نمیتواند.

مجاهدین که به اراده خویش دربرابر دیو کمونیزم قیام نموده اند هیچگاه ازقطع سلاح تشویش نداشته وازین بابت نگراني ندارند زیرا آنها بادست خالي جهاد را آغاز نموده واکنون هم میتوانند باقوت ایمان وعزم باساده ترین اسلحه دربرابر دشمن مسلح به جهاد خویش ادامه دهند :

مجاهدین به پیروزي حتمي خویش بر دشمن بیگانه ازملت که فعلاً در کابل حکومت مي کند اطمینان دارند مجاهدین در طول جهاد ازپشتیباني ملت برخوردار بوده وحمایت ملت مسلمان افغانستان براي جهاد قوت ونیرومندي بیشتر بخشید ه است و امروز هم ازین جهت مجاهدین بیشتر برحمایت ازجانب مسلمان فکر مي کنند تاسلاح .

ازانجاییکه رژیم کابل درمیان ملت ومردم افغانستان ریشه واساس نداشته وازحمایت برخوردار نیست بناً بیشتر به سلاح وحمایت کرملین اتکا مي کند ولي این امر نمیتواند رژیم کابل راازسقوط حتمي نجات دهد .

لذا بدست اوردن سلاح واستعمال ان علیه ملت چارهٔ اساسي نبوده بلکه پذیرفتن واقعیت هاي عیني واراده مردم وملت راه اساسي براي حل قضیه میباشد .



د ملګرو ملتونو...

آیا امکان لري چي ټول افغانان دي دخلق اوپرچم دډلو له ظلمونو ، تیریو وحشتونو اوناخوالو څخه سترګي پټي کړي ؟ چي لدي امله څه دپاسه یونیم ملیون هیوادوال موشهیدان شوي اوهم دیو ملیون څخه زیات معیوب شویدي دمهاجرتونو ربړونه ، کړاونه اوسختي شپي ورځي خو لاپریږده .

آیا دابه افغانان ته دمنلو وړوي چي له وطن پلورونکو اوانسان دښمنوکفري ډلو ټپلو سره چي په افغانستان کي یې دځلورویشتو کلونوراپدیخوا خپل دریځ ثابت کړي اوس ددوي په ګډون دیو پراخ بنسټیزه حکومت دجوړولو لپاره هلي ځلي وکړي ؟

اوهمدا ورډیي نوزي مسئلي شته چي هیڅ یومسلمان افغان اوهیڅ یوسالم وجدان ته به دااجازه ورنکړي چي دقدرت دلاسته راوړلو په مقصد له دي ناپاکو ډلو سره حتي دخبرو لپاره حاضر شي ځکه دافغان ولس جهاد ددي لپاره ندي پیل شوي چي دواګو دنیولو لپاره دي دروسي مزدورانو سره چي لاسونه یې داسلام دلاري سر ښندونکو مجاهدینو او مسلمانو افغانانو په وینو سره دي ،پراخ بنسټه حکومت جوړکړي اویا دي هغوي ته په انتخاباتو کي برخه ورکړي .

مونږ په داګه یو ځل بیا تکراروکه ملګري ملتونه هرډول پریکړه کوي هغه ددوي کار دي خو دافغانستان مسلمان اومجاهد ملت به دیوي سنتني دسیم په اندازه هم له خپل اصلي هدف څخه وانه وړي .

مونږ دلوي خداي (ج) په مرسته دخداي (ج) داسماني کتاب دهدایاتو اواحکامو په رڼا کي په ټینګ ایمان او پاك زړه سره مقدس جهاد پیل کړیدي دادکفر اواسلام جګړه ده دابه ترهغو پوري دوام مومي چي مسلمان افغانان خپل وروستي بري ته ورسیږي ،نو که هره فیصله زمونږ دستراتیژي مخالف وي ، که دروس اوامریکي پریکړه وي اویا دملګرو ملتوپه نامه یې وکړي خو افغانانو ته به دمنلو وړنه وي .

ملګري ملتونه که په رښتیا سره غواړي چي په جنګ ځپلي افغانستان کي جګړه ختمه شي نوروسانو ته دي ووایی چي دخپل لاس کېنولي ګوداګي رژیم له حمایې څخه لاس واخلي او د تباه کوونکو وسلو دلیږلولیږي ختمه کړي . اویا دي دکابل رژیم اودخلق اوپرچم دډلي له رئیس څخه وغواړي چي دقدرت څخه ګوښه شي اوله خپلي ډلي سره دي بې له جنګ اوجګړي څخه مجاهدینو ته تسلیم او دپخوانیو عملونو څخه پښیماني څرګند ه کړي نوهله به دافغانستان دمسلمان ولس دعفوي وړوګرځي .

هیوادته ...

پرستیژګټلو بالقوه اوبا لفعل صلاحیت لري دجګړي په تاواولمبو کي راایساروي . واقعیت دادي چي داډیره ژړه وونکي ده ایا مونږ سولي ته ضرورت نه لرو ایا زمونږ مقدر دي چي باید په جګړه کي لوګي شو ایامونږ دخپل وطن ابادولو ته اړنه یو ایا مونږ دخپل هیواد دسمسورولواحساس نه لرو ایا موږ دفقر اولوږي ختمول نه غواړو ایا باید موږ ددي فرصت اوچانس ونلرو چي خپل قوم په تن پټ کړو په خپل کوربي بسیا کړو فقر یي په شتمني ، ستړیا اوغربت یي په هوسایي او بسیا توب واړووایا موږنه غواړو زمونږ ماشومان دبمونو دټوټو اودباروتو دډیرو پرځاي کتاب اوقلم په لاس کي واخلي ایا موږ نه غواړو چي له ویرانو اوهدیرو نه ډك افغانستان یوسمسور اومضبرط اسلامي افغانستان شي طبیعي ده چي ددي ټولو پوښتنوځواب مثبت دي نوواضح ده چي موږ ته په کار ده چي ددي ټولو هیلو اوارمانونودترسره کیدو په مخ کي سوچي کوم خنډ دي په یوه قاطع اوپریکنده حرکت یي له مخي لري کړو ، بي دلیله دوطنفروش رژیم موجودیت دي اوددي رژیم دختمولو لپاره چټك او ټول اړخیز عمل کول دي چي زمونږ دسولي هوسایي اواستقلال دمستقبل د طلوع خبر راکوي اوزمونږ دبي وسه اوترغي ترغي ملت دزخمونو دټکور لپاره دمسلمانو اووطندوستو ځواکونو دمؤمنانه اومجاهدانه احساس اوزړه سوي دتحقق لپاره دلاري داواري د... حیاتي ګام او بنسټیزیون نقش لري

دریمه خبره داده چي دافغانانو جهاد اوانقلاب روسي امپراتوري ته ماتي ورکړه دکمونیزم دډړي وړي کیدو بنسټ یي کیښود ، دوه لکه اویا زره مجهزي لښکري یي له خپل هیواده دشجاعت اومقاومت په منطق وشړلي او په نړي کي یي دبرم اوعظمت یو بي مثاله ریکارډټینګ کړخو که اوس له یوه بي هویت اودپردیو دبرچو په زور کینول شوي رټلي رژیم سره په جنجال اخته وي اردهغه بقا اوپایښت هم پسي اوږدیږي حتماً زمونږ دهغه سترموقعیت اولوړپرستیژ په باب شکونه راپیدا کوي چي دروسي ځواکونو دماتي اوکمونیزم دختمولو له لاري موپه برخه شوي دي

داهم هغه واقعیت دي چي موږ دي ته هڅوي چي باید څومره چي ممکن وي همدومره ژر دخپلو ټولو امکاناتو اوصلاحیتو په کارولو نور دکمونیستانو دکرغیړن رژیم تهغر ورټول کړو او په ټول وس اوطاقت نور پرینږدو چي دروس بدنام غلامان دي په خپل پلیت اوچټل موجودیت او پایښت لازمونږ دغیرتي اوننګیالي ملت په زخمونو مالګي ودوړوي دجګړي په اورکي دي بنګیل وساتي له سولي اوهوسایي دي محروم کړي اودفاتحانه برم اوعظمت شمله دي زیانمنه کړي .

روسان دکابل له ...

لندن افغان اژانس:

دماسکو راډیو دخپورشوي خبرله مخي روسي واکمنو دکابل رژیم واکمنو ته څرګنده کړې چي اوس روسان نوردمالي مرستي کولو اوقرضو دحصول لوپه برخه کي دنظرباتي صوالي پرځاي د خپلوملیتو مسئله مهمه وارزښتناکه ګڼي .

دافغانستان دقضیې دڅیړونکو ومبصرینو دڅرګندونو له مخي اوس روسان په دي پوهیدلي چي ددوي له مرستي سره سره په کابل کي دهغوي ګوډورژیم په خپل حال نشي پاتي کیداي ، نوځکه دوي په کابل کي له موجود رژیم سره دمرستو ددوام په اړه اختلافات لري .

سرژیاتوي چي روسان ترهر څه زیات د مجاهدینو هغه دریځ اندیښمن کړي چي هغوي دروسانو دګوډاګي رژیم د زنسکورولو وروسته ددغه رژیم کړیو ژمنو ته پابند نه دي .

مصرین څرګندوي چي دروسانو ددغي فیصلي یوبل مهم علت څخه خپل ګوډورژیم ته دمرستو په اړه شکمن ګ دروس اقتصادي کمزوري ده .

دهند نوي صدراعظم ...

شوه چي وروسته یي سمدستي له کابیني سره یو ځاي استعفا وکړه ، دهغه پر ځاي دجنتادل ګوند غړي راناچندر شیکر چي له وي پي سنګ څخه ناراضه ؤ دنوي صدراعظم په توګه او پخواني دصدراعظم مرستیال دیوي لال یوځل بیا دمرستیال په توګه انتخاب شول که څه هم سملاسي دشیکر حکومت دپارلمان له اکثریت نه برخمن دي خوسیاسي کتونکي عقیده لري چي دغه حکومت به ډیر زرله منځه ولاړ شي .

تر راتلونکي میلادي ...

دخپرو شویو رپوټونو له مخي به تر (۱۹۹۱) میلادي کال پور ي له یوملیون څخه زیات یهودیان له روسیې څخه نیول شوي فلسطین ته ولیږدول شي . یواځي په روان کال کي (۱۳٤)زره یهودیان له روسي څخه فلسطین ته بیول شویدي . له روسي څخه لیږدول شوي یهودیان زیاتره په نیول شو و عربي سیموکي استوګن کیږي ، کومي چي له کال (۱۹٤۸) څخه راپدي خوا اسرائیلو نیولي دي .

له همدي امله داسرائیلي غاصب رژیم له ډیري مودي را پدیخوا دبیلا بیلو پلمو له مخي دفلسطینیانو کورونه نړول اودهغي په ځا ي یي دصهیونستي حکومت په مالي مرسته نوي تعمیرونه ابادول .

دکتونکو په عقیده له روسي څخه پدي وروستیوکي نیول شوي فلسطین ته دیهودیانو لیږدونه دهغو سازشونو اوموافقاتو یوه کړۍ ده چي دروس امریکاترمنځ لاسلیک شویدي .

په خپروشویو خبرونوکي ویل شوي چي نیول شوي فلسطین ته دروسي یهودیانو دلیږدولو د چټکتیا په خاطر دمسکو اوتل ابیب ترمنځ هوایی پل جوړشو ي اوپه ډیره بیړه ددغو لیږدولو لړۍ روانه ده .

دهئیت تحریر ترنظر لاندي
مسوول مدیر : شـــهرت ننـــګیال
مرستـــیال : سیدمحي الدین هاشمي
مکاتباتي پته : پوست بکس (۱۰۳۳) یونیورستي ټاون پیښور
تیلـــفون : .... (٤۱۷٤٦) ....

خلیج یا ګوشواره ...

روزنامه واشنګتن پست نګاشته است صدام حسین قبل ازحمله برکویت به سفیر امریکا ګفته بوده است درصورتیکه کویت دربرابر خواست هاي برتري جویانه عراق مقاومت نماید آنکشور علیه کویت اقدام نظامي خواهد کرد .

روزنامه درادامه نوشته است سفیر امریکا که بخاطر تحویل دادن پیام حسن نیت بوش به صدام جهت ګسترش مناسبات نزدصدام بود دربرابر این تهدید وي هیچګونه عکس العمل نشان نداده بود .

بقول روزنامه عده از اعضاي کنګره امریکا از بوش بخاطر این اقدام انتقاد کرده اند.ازطرف دیګر روزنامه « هرالد تریبیون » امریکا ضمن ګزارش از وضع عساکر امریکا یی در عربستان نوشته است که انها ازنګاه ذهني وجسمي ورهایشي درحالت نابسامان بسرمي برند یکي ازانها شکایت کرده است که از بي اطلاعي از وضع خسته شده است دیګران نیز ګفته اند که کار طاقت فرسا انجام میدهند اما مزد کم دریافت میدارند .

یک سرباز دیګر ګفته است چرا هروقتیکه وضع اقتصادي امریکا خراب میشود ماباید بدنبال جنګ برویم ؟

ایالات متحده امریکا بدنبال اشغال کویت توسط قواي عراقي بیش از یکصد هزارعسکرخود را واردعربستان سعودي کرده است .

ملګري ملتونه ...

جیب دمزدوررژیم پر بقا لدی مخکي خپل رضایت څرګند کړی ؤ.

دهغي پټي معاهدي مندرجات دي چي دروس امریکا له خوا د (۱۹۸۹) کال داګست په میاشت کي پټي توافق شوي ؤ اواوس ورو افشا کیږي اودعملي کیدو زمینه ئې برابروي .

په هغه معاهده کي په افغانستان کي دمجاهدینو له خوا داسلامي حکومت دقیام دمخنیوي په لارکي روس امریکا یوداسي موافقي ته رسیدلي ووچي امریکا به ددي هڅه کوي چي هغه تنظیمونه او حلقې کمزوري کړي شي چي په افغانستان کي داسلامي حکومت دقیام غوښتونکي دي .

دملګروملتونو دسر منشي داخبره چي دحل دهري لاري له لټولو مخکي دروس امریکا توافق شرط دي پخپله ددی څرګندونه کوي چي ملګرو ملتونو اداره دروس امریکا داستعماري اهدافو دتحقق په لارکي یوي وسیلي بڼه لري اوهروخت چي استعماري قدرتونه وغواړي هغه خپلو اهدافو په لارکي استعمالولی شي.دغه سازمان دولسونو دحقوقو دقربانیو پرسر له استعمار سره دسودا بازي دلالي په غاړه لري داستعماري اهدافو دتحقق له پاره ورته بیلابیله چینلونه پرانیزي .

دملګرو ملتونو پریکړه داستعمار اودغه سازمان اصلي ماهیت لا په ډاګه کوي .

له همدي ځایه جهادي قوتونوته په کار ده چي دغه ډول مانوري وسازشونه سطحي ونه ګڼي او دیوه متحد اوقوي دریځ له مخي یي به مقابله لاس پوري کړي که نه نو ژرده چي استعمار دخپلو ناولو اهدافو دتحقق په لارکي په داسي مانورونو اوحرکتونولاس پوري کړي چي وخت اوفرصت په تیریدو به له هغي سره دمقابلي چانس بیا به موجود وت نه وي پاتي .

فتح چارپوسته ...

درین عملیات پنج مجاهدشهید تعدادي مجروح ودو تانک شان نیز توسط دشمن تخریب ګردید .

طبق یک خبر دیګر یکي از قوماندانان جهادي که ازمعرکه به پشاور امده است طي مصاحبه یي ګفته است عملیات برمیوند که از اول عقرب آغـازیافته منظماً ادامه داشته ودرسه حمله تعرضي که صورت ګرفت مجاهدین دست اوردهاي زیادي داشتند.

موصوف افزوده است:شوراي ولایتي جهاد قومانده ورهبري جنګ ولسوالي میوند رابه عهده داشته ومجاهدین مصمم هستند این ولسوالي راکه داراي ساحه بسیار وسیع بوده ورژیم کابل در حدود چارهزار عسکر درانجادارد فتح نمایند .

وي ګفت با فتح این ولسوالي که با یکصدوهفده پوستهٔ کمر بند تحکیم ګردیده است امکانات .وتسهیلات بیشتر بخاطر حملات مزید مجاهدین بر مراکز ولایات هلمند وکندهار فراهم مي ګردد.

دکشمیر ...

هغه دمرګ وادي "ترعنوان لاندي یوه مضمون کي لیکلي چي په روان کال کي دکشمیریانو او هندي پوځونو ترمنځ نښتو کي دوه زره کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړي ، په ټوله سیمه کي نوي کیندل شوي قبرونه اغزي لرونکي سیمونه ، تړلي دوکانونه اوهري خواته دکشافاتو ډیري یوه عجیبه منظره جوړوي ،دپاکستان اوهند ترمنځ تراوسه دکشمیر پر سر څلور ځلي جګړه شوي اؤپه هند کي اوسني ناکراري ددي ګواهي ده چي هلته اوس هم مسلمانان اوهندوان له یو بل نه په ویره کي شپي سبا کوي ، دنیول شوي کشمیر له امله دهند وضعیت ډیر خراب بریښي اودسیلانیانو راتګ ډیر کم شویدي سربیره پردي پنځوس زره هندي کورني له نیول شوي کشمیر نه هند ته تښتیدلي خوخپلواکي غوښتونکي وایي چي دا دهند پوځ په زور ایستلي ترڅو خپلواکي غوښتونکي ظالمان وبښي له بله پلوه تراوسه دوه زره کورني دهندي پوځ له ظلم نه آزاد کشمیر ته اوښتي هلته اوس له ماښام نه وروسته بهر هیڅوک هم نه لیدل کیږي .

دپاکستان د ...

اتحاد پیژندل شوي اوتجربه لرونکي غړي دي ویل کیږي چي په مناسب وخت کي به شپږ تنه نور وزیران هم په کابینه کي شامل شي .

همدارنګه دسند اوسرحدد ولایتي حکومتونو کابیني هم اعلان شوي په سرحد کي داسلامي جمهوري اتحاد اودنشنل عوامي ګوند شریک حکومت جوړشوي چي نشنل ګوند ته شپږ وزارتونه ورسپارل شوي .

په زابل کي ...

پسي بمباریو اودسکړ توغندیو دویشتلو سره سره خپلو بریدونو ته ادامه ورکوي چي پدي ترڅ کي یي دعقرب په (۱٦)نیټه هم درژیم څلور پوستي نیولي اویوه اندازه وسله یي ترلاسه کړیده .

رپوټ څرګندوي چي دکابل رژیم کوښښ کوي ترڅو دقلات دمحاصره شوي ښاردملاتړ لپاره دپخواني قطار دمرستي په توګه چي دلاري په اوږدو دمجاهدینو دحملو له امله ویجاړشویدي یوبل قطار هم ولیږي .

رپوټ زیاته کړیده چي دکابل رژیم خپلو کلابند شوو عسکرو ته په قلات کي یواځي دپراشوت په واسطه خوراکي مواد اومهمات وررسوي .

مقاومت دربرابر زورګویي ...

ازرهبران متعصب مذهبي یهودي درامریکا توسط شخصي به قتل رسیده است ګفته شده که این شخص رهبري متعصبین یهودي را در اسرائیل برعهده داشته است .